NDI
NATIONAL
DEMOCRATIC
INSTITUTE
FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# په افغانستان کی د ټاکنو وروستنی معلومات


د زیاتو معلوماتو لپاره:
اندی م.ای.کمپبیل
ریس عمومی
۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org


## 13 دسپتامبر 2010: د ولسی جرگی ټاکنو ته ۵ورځی پاتی دی

## د افغانستان د ولسی جرگی ټاکنی په ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۰

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرگی د ټاکنو له بهیر څخه د څارنی او نظارت په موخه د څارنی او نظارت ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیرونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح گمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شی: AfghanistanElectionData.org. و NDI.org

**AfghanistanElectionData.org** دا دی ملی دیموکراتیک انستیتیوت د هغوپروژوڅخه ده چی د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو دټاکنو په اړوند وروستی معلومات خپروی، چی د غښتلو معلوماتو یوه بیلګه په تیرو ۶ کلونو کی ګڼل کیږی.

### سره ددی چی څوکی دمخه ځانګړې شوی دی، خو ښځینه نوماندانی له خنډونو سره مخامخ دی

سره ددی چی د ښځینه نوماندانوعضویت په ولسی جرگی کښی تضمین شوی دی،خو بیا هم ښځینه نوماندانی دمهمو چیلینجونو سره مخامخ دی. د ټاکنوپه قانون کی ۶۸ چوکی په ولسی جرگی کی ښځو ته ځانګړی شوی چی د ټولو سیټونو څلورمه حصه تشکیلوی. نو د ۱۰۰ هیوادونو په منځ کی دا یو لوړه فیصدی ده چی په افغانستان ګی ښځو ته ورکړل شوی ده.بیا هم ښځینه نوماندانی د چالشونو سره مخ دی، د تیرو دری اونیو په ترڅ کښی ددیموکراتانو انستیوت د ۸۰ تنه ښځینه نوماندو سره مرکی کړی، چی یو پر دریمه حصه یی ددی شکایت درلود چی دوی د ښځینه او نارینه نوماندانو لخوا دټاکنو دکمپاین په بهیر کی د تهدیدونو، تشدد او بیځایه مداخلو سره مخامخ دی، د تشدد ځینی نمونی لکه دغیراخلاقی الفاظو استعمالول، فزیکی تشدد او د پوسترونو څیریکول حتی ددوی دکوردغړو د خوا هم کیږی.دا فغانستان د اساسی قانون د ۸۳ مادی سره سم دهر ولایته پَه اوسط ډول باید دوه ښځینه کاندیدانی ولسی جرگی ته لارومون‍دی. د ۲۰۰۵ کال د غوښتنو مطابق دټاکنود نظارت د تنظیم بورد وانګیرل تر څو دغه سیټونه د هیواد ۳۴ ولایتو ته ځانګړی کړی د کابل غوندی ستر ولایت کی ۹ سیټونه د ۳۳ څخه ښځو ته ځانګړی شوی دی. او په ۱۹ کوچنیو ولایتونو کی ددوو څخه یو سیټ ځانګړی شوی دی. (پاتی برخه په دویمه پاڼه کی).

**د ۲۰۰۵ کال ولسی جرگی ټاکنوکی د ښځو ونډه**




## برحاله نوماندان

### د ارقامو پر بنسټ

د ۲۴۹ دولسی جرگی غړو څخه ۱۹۴ چی ٪۷۸ کیږی د بیا ځلی ټاکنو د پاره سیالی کوي.

د ۲۰۰۹ کال ولایتی ټاکنو کی ۶۹ ٪ پخوانیوغړو د بیا ځلی ټاکنو دپاره سیالی کولې. په شپږو ولایتونو لکه سرپل،بامیان، کاپیسا،دایکندی، زابل او نیمروز کی د ولسی جرگی ټولو پخوانیو غړو بیا ځلی ټاکنوته ولاړ دی. په هلمند کی د ۸ څخه دری یی بیا کاندید وو، چی د هیواد په کچه کمه فیصدی ده.په څلورو ولایتونو کی یواځی دوه سیټونه د لریو شویو کاندیدانو څخه پر ځای پاتی دی، چی د ۲۳۰۰څخه زیات نویو کاندیدانو ته یی د ازمیښتونو ګړی رامنځ ته کړی ده. هیواد په ۲۰ ولایتونو کی د ولسی جرگی پخوانیو ښځینه غړو بیا ځلی ځانونه انتخاب کړی چی د نویو ښخینه کاندیدانو د لاری خنډ جوړیدای شی.یواځی ۱۱ ولایتونو یوښځینه سیټ لریچی برحاله ښخینه کاندیدانو بیا ځانونه ندی ټاکلی. د این ډی ای د تحلیل مطابق د ولسی جرگی څلورمه حصه بیا ځلی منتخب کاندیدان دسیاسی ګوندونو سره تړاو لری.پداسی حال کی چی په رسمی توګه په لسو کی یو یی د سیاسی ګوندونو سره تړاو لری.

### د برحاله نوماندوچیلنجونه

د ۲۰۰۹ کال په ولایتی ټاکنو کی یواځه ٪۴۱ پخوانیو غړو بریا ترلاسه کړه. په ولسی جرګه کی د ۵ کلو وروسته نوموړی وکیلان داسی څرګندوونی کوی چی دوی په دی دوره کی د خلکو ارمانونو پرځای نشوای کړای،او نه یی خدمت وکړای شو، پرته ددی چی دوی خپلو خلکو ته د خپلو شویو خدمتونو بیلګی وښایی، خلکو څخه د بیا رای ورکونی هیله کوی. نومړی استازی په ۲۰۰۵ کال کل کی دی پاره ټاکل شوی وو چی د خپل ټول ولایت استازیتوب وکړی ، خو دوی د یو ځانګړی جغرافیوی موقیعت او ولسوالۍ استازیتوب کاوه.

د افغانستان دڅیړنو او ارزیابی یون وایی چی پخوانی موکلین چی د خپلو کلیو او بانډو څخه یی رای تر لاسه کړی وی او اوس بیا غواړی ددی خلکو استازیتوب وګړی د جدی چیلنجونو سره مخامخ دی، هغوی پدی تورنوی چی دوی د ټاکنی وروسته دا وګړی هیر کړل. هغو نوماندانو، ناظرینو او رای ورکونکو چی د دیموکراتو د ملی انتیتیوت سره مرکی کړی وایی چی برحاله نوماندان امنیتی سرچینو ته ښه لاس رسی لری، چی دنویو نوماندانو په کاندیداتورۍ به منفی اغیزه ولری.

### د برحاله نوماندانو ګټه

سره ددی چی خلک د ددولت څخه ناراضه دی، د این ډی ای د ناظرینو د راپور مطابق چی دډیرو ولایتونو څخه یی لیدنه کړی ، برحاله کانیدان یی غښتلی په ګوته کړی. د ملی دیموکراتیک انستیوت سره په مرکه کی د ولسی جرگی برحال غړو د بیا ځلی منتخب کیدو اطمینان ورکړی. ځینی نوماندان چی ددولتی سرچینو ته لاس رسی لری پدی توانیدلی دی چی خپلو خلکو د خدمت ښی پایلی پریږدی. د افغانستان دڅیړنواو ارزیابۍ یون لخوا جوته شوی ، هغه شمیر نوماندانو چی ښکاره ګټی یی ولس ته رسولی لکه د مکتب او پل جودل د خلکو لخوا ستایل شوی دی. د ولسی جرگی هر برحاله غړی ددولت لخوا کولای شی چی امنیتی امکانات د کمپاین په بهیرکی ولری. اوغیر برحال نوماندان یواځی په هغه حالاتو کی ددی امکاناتو څخه کټه کولی شی ترڅو ددوی حالات ګړۍ په ګړۍ دداخلی وزارت لخوا تثبیت شی.


دیمکراسی ملی انستیتیوت د نړیوالو چارو د پاره ♦ 2030 M St. NW, Fifth Floor ♦ Washington, DC 20036-3306
تلفن: 202.728.5500 ♦ فکس: 202.728.5520 ♦ www.NDI.org

## ښځینه نوماندی ( د لمړی پاڼی په دوام)

که چرته یوه ښځه په پشپړه توګه بی غیردکومی مرستی یا هم ټاکلی برخی رای واخلی ، بیا هم ددی سیټ ورنه ځانګړی شوی وی، دا چی ښځینه کاندیدانی باید ۶۸ زیات سیټونه وګټی، نو دوی باید په یو یا هر ولایت کی ورته ځانګړی شویو سیټونو زیات ترلاسه کړی. ځینی ښځینه موکلینی وایی جی د افغانستان د سیاسی او ټولنیز لامله ښځینه کاندیدانی نشی کولی چی په ۲۴۹ سیټو کی د ۶۸ څخه زیات سیټونه ترلاسه کړی. په ۲۰۰۵ کال کی ښځینه کاندیدانودهیڅ ولایت څخه ولسی جرګی د پاره د ځانګړی شویو سیټونو پرته ځان نورو ته انتخاب نکړل. پداسی حال کی چی د ښځو ونډه تضمین شوی ده، د ښځوترمنځ د ځانګړ شویو سیټونو د پاره سیالۍ په موثره توګه روانی دی. د این ډی ای سره په مرکه کی ښځینه کاندیدانو د ښځو او نارینوو نه د رای په اخیستلو تاکید کوی. یو ښځینه کاندیده وایی چی دی د نارینوو څخه د رای په اخیستو تاکید کوی ځکه چی زیات شمیر ښځی بیسواده دی او د نارینوو لخواورته لارښونه کیږی.

په ځینی مواردو کی دنارینه کاندیدانو سره هم همکاری شوی ده: په پکتیا ولایت کی یوه کوچۍ ښځینه کاندیده د یو تن سړی کاندید سره ګډ دفتر لری

د ښځینه کاندیدانو تشویق د کورنۍ د غړو او د سپین ږیرو لخوا غیر معمول خبره نده، زیات شمیرښځینه راپور ورکوی چی کاندیدانی د کورنۍ څخه تمویل کیږی.

مهم ټکی: د افعانستان د بشرد حقوقوخپلواک کمیسون( AIHRC )

نوموړی کمیسون د هیواد په کچه ۱۸۰ کارکوونکی ګمارلی تر څو دتیروټاکنو په اړوند کتنی وکړی. دغه کتنی د نوم لیکنی د پروسی پیل شوی او د ټاکنوتر کمپاین به ادامه وومی. سره ددی چی نوموړی کمیسون او د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ د معلوماتو په راټولوکی ګډه همکاری لری، خو د بشر د حقوقو کمیسون دامنیتی او مالی ستونزو له امله دا څرګنده نه کړه چی د ټاکنو په ورځ به کتونکی ولیږی او کنه، که داسی وشی نو دیوی به د شمیرنی او شکایاتو په بررسۍ کی پاتی راشی.

د بشر د حقوقو کمیسون کتنی د ټاکنو د اداری څخه د ټاکنو پر سیاسی حقوقو زیات تآکید کوی،په ځانګړی توګه د: ۱- د بیان آزادی ۲-د غونډو ازادی ۳. دپرمختګ د غونډو ازادی ۴- او د اتحادیو ازادی چی د تبعیض ، بی غرضه اود ګواښونو څخه پاک چاپیریال موجود وی.

د ملی دیموکراتیک انستیوت سره په کتنه کی د بشردحقوقو مشرتابه په ګوته کړل چی د امنیت نشتوالی اود مخورومشرانو ګوښونو د ښځو ګډون په ټاکنو کی کم کړی.

هغوی د ټاکنو وروسته د ښځود د ګډون او د ناراضه کاندیدانو د زیات شمیرشکایتنونو په اړوند خپل تشویش ښودلی دی. د بشر د حقوقو مشرتابه ددی اندېښنه ښودلی چی دتیرکال په پرتله به سږ کال د درغلیو بهیرپیچلی وی.

## د( دیموکراتانوملی انستییوت) د ساحوی کتنی په اړه مهم ټکی

### د ننګرها ولایت

داچی په ۷ دسپتمبر د ټاکنو کمیسون ددی اعلان وکړ چی دوی به د ۴۵۸رای مرکزونو څخه ۸۱ بندوی (چی د ۱۲۲۵ محلونو څخه ۲۹۱ محلونه شامیلږی) د نوماندانو او دټاکنو د کمیسون مامورین تر اوسه خپل عکس العمل ښایی. د کمیسون دغه پریکړه به په ۱۴ولایاتونو او ۲۲ ولسوالیو اغیزه ولری.( په شیرزادو کی د ۳۹ څخه ۳۲ محلونه،حصارک کی د ۵۱ څخه ۴۱،خوګیانو کی د ۶۳ څخه ۵۱ مرکزونه د منځه لاړل. د اګست په نیمایی کی دننګرها ولایت د ایساف اړوند ماموراین ډی ای ته وویل چی دوی به د رای پاڼو په انتقال کی هغو سیمو کی چی نا امنه دی خپله همکاری کوی، خو په کابل کی دنړیوالو پروګرامونو یو مامور وویل چی ایساف به دا کار نور تر سره نکړی. تیرکال د ننګرهار پولیسو امر ویلی ووی چی دوی په کافی اندازه عسکر د ټاکنو د بهیر د پروسی د پاره نلرل. خو سږ کال دا چی زیان شمیر مرکزونه د منځه لاړل او ځینی یی یو بل سره په هماغه سیموکی نژدی موقیعت لری د افغان ملی پوځ ته اجازه ورکړل شویده چی خپلی ټولی هڅی په همدی محدودسیمو کی متمرکزی کړی. ننګرهای کی یو شمیر نوماندان ددی اندیښنه لری چی زیات شمیر وګړی به د رای ورکونی د حقه محروم پاتی شی. هغوی د ټاکنو د خپلواک کمیسون څخه غوښتنه کړی چی ټاکل شویو مرکزونو ته دی زیاتی رای پاڼی ولیږی ترڅو د لریو پرتو سیمو خلک چی هلته مرکزونه نه شته ، خپلی رای دلته استعمال کړی.د این ډی ای تحلیل پدی اړوند ښایی چی دغه بهیر همداسی روان وی، که په درغلیو کی ککړی رای پاڼی پام کی ونه نیول شی، نود ۲۰۰۹کال ټاکنومطابق به په حصارک،خوګیانو او شیرزادو کی په هر مرکز کی به۱۰۰۰ رای ورکوونکی ونډه واخلی. .

### سهیل ختیز ساحی

د درغلیو ضد اتکلونو سره ، بیا هم زیات شمیر ونډه اخیستونکي د بی نظمۍ منتظردی تر څو یی د تیرو کلونو سره په تطابق کی وکړی. د آین ډی آی د خوا په شویو کتنو کی د نوماندانو، ژوزنالستانو، د مدنی ټولنو غړو او حتی د ټاکنومامورینو په ټاکنو کی دټاکنو دخپلواک کمیسون د بیطرفۍ څرګندونی په پکتیا او پکتیکا او خوست ولایتو کی وکړی. په تیر کال ټاکنو کی د ۶۰۰۰ څخه ۳۰۰۰ تنه په تور لست کی د پورتینو دریو ولایتونو څخه راغلی وو.

سږکال دټاکنو خپلواک کمیسون د ۳۰۰ څخه د ۲۰ ولسوالیو کارکوونکی د کاندیدان سره د اړیکو په تور د دندو کوښه کړل.د ټاکنو د خپلواک کمیسون ریس وایی چی د خوست دولایتی شورای د غړو چی د ټاکنو د مامورینو سره په سازش کی شامل دی یوه څیړنه به ډیرژرتر سره کړی.د رسنیو د راپورونو د مخی ، دولایتی شورای نوموړو غړو یو مطبوعاتی کنفرانس رابللی وو او د ټاکنو ولایتی مامورین یی په اخلاقی فساد او د صلاحیت څخه د غلطی ګټی په اخیستو تورن کړل. ټاکنوولایتی مسوول ددوی تورونه رد کړل او وی ویل چی دا ددوی د کمپاین یوه بییګه ده، ددی وروسته چی د ټاکنو ولایتی دفتر ددوی پیشنهاد د مامورینو په ټاکلو کی د ولایتی دفتر لخوا رد شو نو دوی بیا په نوموړو مامورینو داسی تورونه ولګول. او د ټاکنو ولایتی دفترد ولایتی شورای په دوه غړو د نوماندانو سره په کورنیو اړیکو تورن کړل. نا امنی د درغلیو امکانات زیاتولی شی. د جولای په اخر کی یو نوماند په جومات کی کمپاین کوو چی چاودنه پری وشوه او نوماند یی د منځه یوړ.تیره اونۍ په پکتیا کی یو وسلوال تن په یو نوماند ډزی وکړی چی ورته کوم تاوان پیښ نشو. په پکتیا کی شب نامی خپریږی او خلکو ته ګواښونه کوی چی په ټاکنو کی به ګډون نه کوی. او هغه دوکاندارانو چی د نوماندو عکسونه یی په دکانونو لګولی دهغوی دکانونه به سوځول کیږی.

**ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمینارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه پا، لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.**